# د شام انقلاب بيه به څوک ورکوي؟



بسم الله الرحمن الرحيم
(ژباړه)

د شام رواني پېښې يوه په بله پسې له هيلو او دردونو سره تېرېږي. هيله يې سمې موخې ته د انقلاب د مسير برابرول او د شام طاغوطي نظام ته د دغه مسير د نيږدې کېدو مخنيوی دی؛ خو هغه درد يې چې پرېښی دی، دا دی چې زرګونه وګړي پکې شهيدان او ټپيان شوي، چې شمېر يې په زياتېدو دی، پرته له دې چې په اړه يې کوم مسوليت احساس شي يا يې پر وړاندې کوم انساني شعور را ويښ شي، دا انقلاب د تېرېدو په حال کې دی.
نو د دغو هيلو او دردونو په منځ کې د سياسي حل لارې لړۍ روانه ده، که هغه د امريکا سياسي حل لاره وي او که د اسلامي امت پروژه (د نبوت پر منهج د خلافت بيا تاسيس). هلته چې مرګوني الوتکې هره ورځ بمونه غورځوي او له دمې پرته د اور لمبې زياتوي؛ د لوګي، ويجاړيو او مرګ د بوی له منځه د انسان په ذهن کې يوه پوښتنه راګرځي، چې بايد ځواب شي.
حال دا چې ټول پوهېږي، څوک چې د شام د طاغوت ملاتړ د دې لپاره کوي چې سقوط ونه کړي، بادار يې امريکا ده. بېشکه دا مخلص مزدور طاغوت د امريکا له اوامرو سره سم مخکې ځي او ټول په دې هم پوهېږي، چې د مزدورو ډلو زياتره رهبران، چې امريکا او لاسپوڅي يې ملاتړ کوي، په تېره بيا هغوی چې مهم رول لوبوي، پر دې لاره حرکت کوي چې د امت انرژي بېځايه او د هغو سرو کرښو په منځ کې چې امريکا ورته رسم کړي، مصرف کړي. دا ټول موارد په نظامي برخه کې وو.
خو په سياسي ډګر کې، لکه څنګه چې ټولو ته ښکاره ده، هغوی چې د استانې او ژينو په کنفرانسونو کې يې ګډون وکړ او په خپل اطاعت يې د امريکا رضايت ترلاسه کړ او يو څه تجربه يې پيدا کړه؛ مثلا: له هغې ډلې د اوربند، د رياض په کنفرانس کې په ګډون پر سرو کرښو پابندي او په هغو خبرو اترو کې ګډون کول چې نه يې چاغوي او نه به يې له لوږې وژني، نوم اخيستی شو. کومه پوښتنه چې دلته مطرح کېږي، دا ده چې ولې امريکا تر اوسه په دې نه ده توانېدلې چې د شام انقلاب منحرف کړي؟
دې پوښتنې ته د ځواب لپاره بايد پر پېښو ځغلنده څېړنه وشي؛ يعنې امريکا د انقلاب له پيله پر چارو د تسلط له لاسه ورکولو اهميت ښه درک کړی دی. نو ويې غوښتل چې خپل مزدور (د شام طاغوت) له خپلو ښاخونو او پانو سره وساتي، تر څو په سوريه کې حاکم قدرت د اړتيا پر مهال د شته وضعيت په ساتلو له بشاره بل کس ته انتقال کړای شي.
په دې برخه کې شوي کارونه دا دي: انقلاب ته د جهت ورکولو لپاره د سياسي رهبرۍ د تشکيل او تمويل هڅه، لکه څنګه چې د نظامي قوتونو يوې مجموعې د دغو سياسي رهبرانو له رسم کړې تګلارې څخه په ګټه اخيستنې په مختلفو لارو هڅه کړې، چې د انقلاب مسير منحرف کړي، تر دې چې هر يوه د يوې ټاکلې موخې په تر سره کولو؛ لکه: داخلي قتلونه يا د هغو مشخصو سيمو او سرو کرښو ساتنه چې دوی ته

وړاندې شوې وې او یا د جبهو فتحه په دې موخه چې له کومې ګټې پرته یې یې انرژي بېځایه ولاړه شي او د موجود نظام عمر اوږد شي.
حریصه امریکا د قربانیانو د لوړې شمېرې، چې ماشومان، مېرمنې او زاړه پکې شامل دي، توازن برابروي. له دې سره سره خپل مزدور د شام طاغوت ته شین څراغ ښیي او لاس یې په ډول ډولو وسلو او د خپل مزدور په حمایت او ځواکونو په وژنو، د زېربناوو، روغتونونو، جوماتونو، مدرسو په ویجاړولو کې خلاص پرېښی دی. دا ټول پر یوه مهم ټکي دلالت کوي، چې د امریکا د پلان اساس د عامه افکارو د اغوا په موخه د خلکو تثقیف دی. په دې برخه کې یې لومړۍ موخه او رښتینی دښمن د سیمې هغه اوسېدونکي، دي چې مسلسل تر ظلم او اذیت لاندې دي، تل د ستونزو پر وړاندې ثابت پاتې شوي او د دوی ټول پلانونه یې افشا کړي. نو دا ټول جنایتونه او ویجاړۍ د دوی د قوي ارادې د ماتولو لپاره دي، تر څو د راس الکفر (امریکا) سیاسي حل لاره ومني او په راتلونکي کې چې هره رهبري راځي، ورته تسلیم شي.
له شک پرته څوک چې د عامې رایې په اهمیت او د خلکو د تثقیف په قوت او په تغیر کې یې په قوي رول پوه وي، نو باید خپله ټوله انرژي پر هغه لار مصرف کړي؛ ځکه چې له تثقیف پرته قوت هېڅ ارزښت نه لري او بې له قدرته تثقیف هم کوم اغېز نه لري. دا په داسې حال کې ده چې په تثقیفي قوت او عامې رایې د انقلاب د مسیر سمول تر ډېرو فشارو لاندې راځي؛ خو باید د قوت او خلکو د تثقیف تر منځ یو انسجام وي، چې د سیاسي اسلام پروژې ته یووالی ورکړي او د رسول الله لارې او مسیر ته یې سمه کړي.
په داسې حالت کې له استثنی پرته هېڅوک له ټاکل شوې موخې بېرته نه شي ګرځېدلی. دا حقیقت کافر غرب درک کړی او د خلکو او ځواک د جدایی لپاره له ټولو په لاس کې شته وسایلو او مختلفو اسالیبو کار اخلي. همدا د خلکو ځواک او تثقیف هغې عادلې تلې ته ورته دی، چې خلک او ځواک په یوه توازن کې ساتي. دا د ټولنې د بدلون لپاره یوازینۍ لاره ده.
نو د قوت او قدرت پر خاوندانو واجبه ده، چې له امت سره په دې لاره کې یو ځای شي، د هغو خلکو له فشارونو لرې شي، چې غرب یې ملاتړ کوي او هم د هغوی تګلاره چې کندې ته د لوېدو سبب کېږي رد کړي. دا هم واجبه ده چې د خلکو په روزنه او تثقیف کې د قوت او قدرت خاوندانو رول او په دې برخه کې یې اغېز درک شي. لومړی د بدلون مسولیت پر غاړه واخیستل شي او دا همغه مسولیت دی، چې د انقلاب بیه به ورکړي او وروسته باید دا مسولیت درک شي، چې ﷲ سبحانه وتعالی قوت او نصرت یوازې په دې کړنلاره ورکوي. نو هغه سبحانه وتعالی د نصرت او قدرت خاوند دی؛ دا کار نه کوم خلیفه کولی شي او نه هم کوم ریس. مګر دا چې مسلمانان د هغې موخې لپاره سره یو شي، ځکه چې محاسبه یې هم واجب ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:
**«والَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بالْمعرُوف، ولَتَنْهَوُنَّ عَنِ المُنْكَر، أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّه أَنْ يَبْعثَ عَلَيْكمْ عِقَاباً مِنْه، ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلاَ يُسْتَجابُ لَكُمْ»** (رواهُ الترمذی)

*قسم پر هغه ذات چې زما نفس یې په واک کې دی، خامخا به تاسو پر نېکو کارونو امر کوئ او له ناوړه کارونو به منع کوئ. که نه ژر ده چې الله سبحانه وتعالی به عذاب درته راولېږي، بیا به تاسو دعا کوئ او الله به یې نه قبلوي.*

دا تباهي او زیان به اول او آخر له مسیره په لرېوالي او خاموشی کې وي، په تېره بیا کله چې نړۍ د انحراف خوا ته روانه ده او د شام د طاغوت په اړه، چې د امنیت شورا غونډه چې د روسې ویټو پکې وښودل شوه، منع کړه؛ څنګه چې دوی وایي، د شام د طاغوت په اړه هر ډول اجرات ردوي. هلته چې روسیې دویم ځل خپله ویټو د انقلاب د عمر د اوږدولو لپاره د امنیت شورا په وروستۍ غونډه کې د چهار شنبې په ورځد ۲۰۱۷م کال د اپرېل پر دولسمه وکاروله.
نو هغه څوک چې د تغیر په لاره کې دي، باید باثباته وي، صبر وکړي او سختۍ وزغمي. له شک پرته دا هغه سخته لاره ده چې پر دردونو او لوړو پوښل شوې؛ خو پای یې بریا ده او هغوی چې په دې لاره یې

پل ابښي، باید د ټولو پېښو په اړه ښکاره موقف ولري او خپل غبږ پورته کړي، تر څو په لاره او هغه کښتۍ کې خاموشي او انحراف درک شي، چې پکې سپاره یو او د هغو سوالګرو مخه ونیسو چې تړونونه یې تر پښو لاندې کړي او د انقلاب د کښتۍ مسیر یې منحرف کړی. له شک پرته ټول په یوه کښتۍ کې یو، یا به بریالي کېږو او یا هلاک. لکه څنګه چې رسول الله صلي علیه وسلم فرمایي:

**«مَثَلُ القَائِمِ في حُدودِ اللَّه والْوَاقِعِ فيها كَمَثَلِ قَومٍ اسْتَهَمُوا على سفينةٍ فصارَ بعضُهم أعلاهَا وبعضُهم أسفلَها وكانَ الذينَ في أسفلها إِذَا اَسْتَقَوْا منَ الماءِ مَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ فَقَالُوا: لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا في نَصيبِنا خَرْقاً وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا، فَإِنْ تَرَكُوهُمْ وَمَا أَرادُوا هَلَكُوا جَمِيعا، وإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِم نَجوْا ونجوْا جَمِيعاً»**

(رواهُ البخاري)

*هغه کسان چې د الله سبحانه وتعالی حدود قایموي او هغوی چې نه یې قایموي، هغه قوم ورته دي، چې پر کښتۍ پچه اچوي. په پایله کې ځینو ته پورتنی او ځینو ته لاندیني پوړ ورسېږي. د ټیټ پوړ اوسېدونکي د اوبو لپاره لوړ پوړ ته ځي او راځي. وروسته مشوره کوي او وایي: که خپله برخه (یعنی لاندینی پوړ) سوری کړو، د پورتنی طبقې اوسېدونکي به له تکلیفه خلاص شي. نو که یې خپل کار ته پرېږدي، ټول به هلاک شي؛ خو که یې مخه ونیسي، دوی او نور ټول به له هلاکته وژغورل شي.*

**احمد عبدالوهاب**

**د حزب التحرير- ولایه سوریې د مطبوعاتي دفتر رییس**

**۲۲ رجب ۱۴۳۸هـ.ق**

**۱۹ اپریل ۲۰۱۷م**

**سرچینه: الرایه جریده**